# د جمال الدين باش بکان ورور د شهادت تسليت!




﴿مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُم مَّن قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلاً﴾

**[الاحزاب: ۲۳]**

***ژباړه:*** *(په مومنانو کې ځينې داسې سړي دي چې له الله سره يې خپله ژمنه رښتيا کړله، نو ځينې يې داسې دي چې خپل نذر يې پوره کړ او ځينې يې منتظر دي او دوی خپلې ژمنې نه دي بدلې کړې.*

**حزب تحرير ولايه ترکيه ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه د حزب التحرير شبابو ته د جمال الدين باش بکان ورور، چې د حزب التحرير غړی و د مړينې له امله تسليت وړاندې کوي.**

**جمال الدين رحمه الله عليه يو ځانګړی شخصيت و چې د اطاعت، صبر او اخلاقو بېلګه وه. نوموړي خپله مېرمن مخکې له لاسه ورکړې وه چې له ده سره يې يو ځای د اسلام د پلي کولو لپاره کار کاوه او هغې رحمها الله عليه د دې موخې لپاره هر ډول هڅې کړې وې او بلاخره په همدې لاره کې يې خپل روح الله سبحانه و تعالی ته وسپاره او نن مور بکان رحمه الله عليه هم له لاسه ورکړ.**

**د دې غم په اړه يوازې هغه څه ويلی شو چې الله سبحانه و تعالی پرې راضي شي او له هغه څخه وغواړو چې په خپل رحمت سره چې هر څه پکې شامليږي، نوموړي ته مغفرت وکړي او هغه ته په جنت کې د شهيدانو،**

صالحینو، صادقینو، پیغمبرانو او صحابه کرامو سره ځای ورکړي او کورنۍ ته یې صبر، ایمان، د الله په قضا رضا او ثبات ورکړي.

(إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّـا إِلَيْهِ رَاجِعونَ)

**حزب التحرير ولایه ترکیه**

**مطبوعاتي دفتر**